مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۵/۰۷

# نوی نسل، زدکړه

## مینه او دوښمني

په افغانستان کې د ناځاپي بدلونونو په لړ کې د رواني یو ویشتمي (۲۱) پیړۍ په پیل کې د نړۍ څو هېوادونو په ګډه داسي بدلون رامنځ ته کړ چې طالبي رژیم یې ړنګ کړ او پر ځای یې داسي رژیم او خلک پر افغانستان حاکم کړل چې تر طالبانو لا ناروغ او د زرګونو نیمګړتیاوو لرونکي وو. د افغانستان په تعلیمي برخه کې هم د نویو راوستل شوو خلکو (تنظیمي جګړه ماران) د افکارو پر بنا بدلونونه راوستل شول او داسي نوی تعلیمي نظام او نوی تعلیمي نصاب یې باب کړ، چې تر ښېګنو یې بد ګڼي او دوښمنۍ ډېرې وې او د هغه په پایله کې نوی نسل له کور، کلي جومات، مدرسي نه نیولې تر ښوونځي او پوهنځي پورې په داسي روحیه وروزل شو چې د عقدو او دوښمنیو تله په کې ډېره درنه وه.

اصلي خبره په تعلیمي نظام او تعلیمي نصاب کې ده. که تعلیمي نظام د نوي عصر له غوښتنو او پوښتنو سره سم وي او په تعلیمي نصاب کې د نوي عصر د نویو علومو او پوهې تله درنه وي؛ نوی نسل به مو له ټولي نړۍ سره په ټولو برخو کې په سیالیو کې برابر وي؛ که نه حال به مو تل داسي وي لکه دا اوس چې دی.

جاپان تر موږ زیات د جګړې زور ولید، د اتم بم تر کچې یې اورونه وزغمل؛ خو د خپل تعلیمي نظام په نوي کولو او اصلاح سره وتوانېدل چې د نړۍ له ټولو پرمخ تللو هېوادونو سره په ټولو ډګرونو کې داسي سیالي وکړي چې په هره برخه کې ورنه څو ګامه لا وړاندې هم ولاړ شي، د نړۍ په کچه د دویم اقتصاد خاوندان شي او په هره برخه کې له خپل هېواد نه د اعتبار یوه بېلګه جوړه کړي.

دغه راز جرمني د اوږدې خونړۍ جګړې په لړ کې لوټه ـ لوټه شو او هر څه یې له لاسه ورکړل، خو د تعلیمي نظام او تعلیمي نصاب په نوي کولو او د جګړې له نا خوالو نه په درس اخستلو او دوامداره کار او راتلونکې ته په امید سره یې د جګړې ټول ټپونه او د هېواد ټولي ورانۍ بېرته داسي ورغولې چې اوس د اروپا تر ټولو پرمختللې تکنالوژي لري او د اروپا تر ټولو ځواکمن اقتصاد او پرمختللې بډای فرهنګ لري.

موږ او زموږ هېواد له بده شامته چې د آسیا د جګړو د لارو پر عمومي واټ کې موقعیت لرو، د دې پر ځای چې له خپل موقعیت نه مثبته ګټه اوچته کړو، د نا اهله، نا پوه او خرڅ شوو مشرانو د ناپوهۍ او د عامو خلکو د بېسوادۍ او نا پوهۍ په وجه، نه یوازې له ورانونکو جګړو نه پند نه اخلو، بلکې د جګړو په لړ کې خپل هېواد خپله ورانوو او نور هم په ښت حرکت کوو. موږ هغو فکرونو او اشخاصو سره ځان پیوندوو او ور پورې نښلو چې د نړۍ په هیڅ ګوټ کې هغه فکر او هغه اشخاص اعتبار او چلش نه لري، خو موږ لا د سر او وطن د له لاسه ورکولو تر بریده وربانډې ولاړ یو.

علم او پوهې ته مو شا کړېده او په داسي شیانو پسي روان یو او ویاړ وربانډې کوو چې هغه هیڅ شتون نه لري، اخلاق مو تر دې کچې را ټیټ شوي چې یو د بل له ښکنځلو او سپکولو نه خوند اخلو، د تل له پاره یو بل ته د ذاتي دوښمن په سترګو ګورو او...

دغو ټولو نیمګړتیاوو ته په کتو سره ویلای شم چې زموږ د وطن په رسمي او غیر رسمي تعلیمي نظام او تعلیمي نصاب کې یوه نه، دوې هم نه، درې هم نه، بلکې ډېرې او ډېرې نیمګړتیاوې او ستونزې شته دي چې څو نسلونه مو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دومره ستونزو سره لاس گریوان وو او دي. د همدي ستونزو عملي پایله دا ده چي په تېرو او اوسنیو نسلونو کي قاتلانو، ورانونکو او انسان وژونکو ته قهرمانان وایو او وربانديږ ویاړو. هیڅ کله مو د تولیدي کار فکر نه دی کړی، هیح کله مو د تولیدونکي، کارگر او بزگر درناوی نه دی کړی او...

دا ورانونکی کلتور پر ټولنه حاکم دی، د دې په مقابل کي یا هیڅ ځوک غږ نه باسي او که غږ باسي هغه هم د گوتو په شمیر دي. کله داسي هم شوي چي زموږ د ټولني باسواده زدکړي او د لوړي سویې خاوند په اصطلاح روڼ اندي هم د قاتلینو د ستایلو دایرې ته ورگډېږي او د شخصي او قومي برترۍ په پار له قاتلینو قهرمانان جوړوي او ان د پیغمبر تر کچي یې لوړوي. دا په اوسني وخت کي د یو با درده فرهنگي، ډاکتر صاحب محب زغم ځو جملي دي چي د «فرهنگ اصطلاحات سیاسی» تر سرلیک لاندي یې لیکلي دي. دی هلته د روڼ اندي یا روشنفکر پېژند یا تعریف داسي وړاندې کوي:

«روشنفکر: تهمتی است که برخی ها به خود میبندند و ویژه گی های آن در اقوام مختلف متفاوت میباشد، به این گونه:

**روشنفکر پشتون:**

استاد پوهنتون، ملبس با نکتایي و دریشی که از حکومت افغانستان معاش میگیرد و همین حکومت را دست نشاندۀ کفار می پندارد. به نظر این افراد باید جهاد کرد و قوای اشغالگر را از کشور بیرون راند. این روشنفکر با آن که ریش میتراشد اما ریش ملا عمر را مقدس میداند.

**روشنفکر تاجک:**

شاعر، نویسنده، استاد... که القاب و صفات اش در موتر دمترک شاروالی نه میگنجد ولی قهرمانش حبیب الله کلکانی و مسعود بزرگ است. در این میان خلقی ها و پرچمی هایی هم حضور دارند که بعد از سقوط حکومت شان 180 درجه دور خوردند و مسعودی را که یک عمر اشرار کثیف و بی فرهنگ خوانده بودند، دفعتاً غسل تعمید داده و به مقام ملکوتی رساندند .

**روشنفکر هزاره:**

مکتب خواندگی که تکلم به لهجۀ هزارگی را عار میداند و به لهجۀ ایرانی بهتر از روحانی و احمدی نژاد صحبت میکند، دم از ارزش های دموکراتیک میزند اما الگویش جنایتکاران جنگی مانند مزاری، محقق، خلیلی، شجاعی، شمشیر و شفیع دیوانه است.

**روشنفکر اوزبیک:**

کسی که اگر دکتورا هم داشته باشد ترجیح میدهد تا از جنرال دوستم که تا صنف 4 مکتب خواندگیست، فرمان ببرد، ایشچي و مراد بای را مقصر بداند که چرا قهر قهرمان شان را برانگیخته و سبب شده اند که قهرمان معصوم شان بالای حریم خصوصی شان تجاوز کند و سبب آزار و اذیت و شکنجۀ شان گردد.»

تر ځو چي موږ په خپل تعلیمي نظام او تعلیمي نصاب کي ژور بدلون رانولو، د دوښمنی درسونه ورنه ونه توږو او نوی نسل په نوي او مدرنه بڼه ونه روزو، تل به مو همدا حال وي چي هر نسل به مو په خپلو کي سره دښمن او یو د بل ککړي به ماتوي.

زموږ د رسمي او غیر رسمي تعلیمي نصاب ډېره سلنه، نوي نسل ته د جگړو او دوښمنیو ورزده کول دي. د تاریخ مضمون ډېره برخه د وطني او مذهبي جنگیالیو د جگړو کیسي دي، په دیني مضامینو کي ډېر بحث د حلال و حرام او روا و ناروا فتوا گانو برخه ده چي مینه او محبت په کي تر ټولو لوی جرم گڼل کېږي.

د تاریخ تدریس موږ په ناسمه توگه پرمخ بیایو. تاریخ به ځومره پر موږ پورې خاندي. د نوي نسل د روزلو یو بل خواخوږی وایي چي څنگه موږ له پخوانیو او تېر تاریخ نه زدکړه وکړو:

«ځوانانو ته باید ورزده کړل شي چي:

تاریخي ورځي که توري وگڼئ یا سپیني، تاریخ ته بېتفاوته ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

تاریخ احساسیږي نه، تجربه کیږي .

تاریخ له تاسو څخه نه غندني غواړي نه لمانځني، بلکې غواړي زده کړه ورڅخه وکړئ.

تاریخ ناري وهي:

له پخوانیو یې زده کړئ او خپل هیواد د پردیو لپاره مه ورانوئ، خپل هیوادوال مه وژنئ!

عجیبه دا ده، چې موږ پروني قاتلان غندو او ښکنځو، خو نني غله او قاتلان پر اوږو ګرځوو.

تاریخ زموږ دغه ملي حماقت ته سربداله دی.»

له دې نه ښکاري چې زموږ تعلیمي نصاب د دوښمنی تدریس کوي، نو نوی نسل به خود انتحاري کیږي او د جنت په تمه به ځان او یو شمیر نور خلک د ګور تیارو ته بیایي. د دې دوښمنی زمینه موږ خپله په خپل کور، کلي، ښوونځي، پوهنځي او جوماتونو کې برابره کړېده.

دا په یاد ولرئ چې دوښمني ارثي نه ده چې د چا په ختېه او دې ان اې کې په طبعي ډول موجوده وي، دوښمني یوه ټولنیزه منفي پدیده ده چې د زدکړې له لارې تر لاسه کیږي او زدکړه له مشرانو، ښونکو، ټولني، میډیا او کتابونو نه کیږي. کله چې زموږ د ټولنې پاسنی نسل، کتابونه، دیني او غیر دیني ښوونکي حتی د میډیا ډېره سلنه د دوښمنی په زهرو لړلي وي، د وژلو او دوښمنی تبلیغ کوي، نوي نسل ته به خود ورلیږدول کیږي.

زموږ هنرونه په تېره ادبیات او په ټول کې زموږ تعلیمي نصاب باید نوي نسل ته د علومو او فنونود زدکړې تر څنګ، د وطن مینه ورزده کړي او په ځانګړي ډول د ادبیاتو او ښونکو دنده ده چې د نوي نسل د ذهن له کروندي څخه د جګړې فکر او د باروتو دود او بوی پاک کړي او پر ځای یې د مینې ، وطنپالنې او انسان دوستی زړي وکري.

موږ باید نوي نسل ته د دوښمنی او منفي تجربو پر ځای، د نوي زمان د غوښتنو پر اساس داسې څه ورزده کړو چې د نوي ژوند له نویو ستونزو سره د مقابلې لارې چارې ورته روښانه کړي او د تېرو مثبتو تجربو روښانه ډیوې په لاس کې ورکړو، نه د کرکې او جګړې بیرغ.

یو ځل مې د پیاوړي او ښه غږ لرونکي سندر غاړي او ټولنیز شخصیت فرهاد دریا په یادداشتونو کې دا جمله تر سترګو شوه چې دلته ډېره ښه کارېدلای شي:

**«صادقانه اقرار میکنم: ترجیح میدهم جوانان به جای سنگ و تفنگ، رباب و کتاب بردارند.»**

**که یو کلن ثمرغواړئ، غنم وکرئ!**

**که مو لس کلن ثمر په کار وي، ونه کېنوئ!**

**که د سل کلن ثمر هیله لرئ، نوی نسل وروزئ!**

(کنفوسیوس)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ